دافغانستان اسلامی جمهوریت
اداره ارتباطات عامه و استراتیژیک ریاست جمهوری
مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

# ملت ته د دولت د حساب ورکولو برنامه
# برنامه حسابدهی دولت به ملت




## د احصایې او معلوماتو ملي اداره

## د ۱۳۹۹ کال – سلواغې ۱۶مه

پرله پسې ګڼه: ۲۸

## سال مالی ۱۳۹۹

## د احصایې او معلوماتو ملي اداره

د احصایې او معلوماتو ملي اداره، د الکترونیکي حکومتولی د پالیسیو د پلي کولو په برخه کې یوه د اعتبار وړ مرجع ده، چې په علمي ډول د ارقامو د ثبتولو، سیستم جوړولو، د جغرافیایي معلوماتو د ټکنالوژۍ او د نفوسو د احوال ثبتولو په برخه کې د هېواد په کچه فعالیت کوي. دا اداره چې تر دې وړاندې د احصایې مرکزي اداري په نوم یادېده، په ۱۳۵۱ لمریز کال کې د دولت په چوکاټ کې د یوه خپلواک بنسټ په توګه ټولو احصاییوي ارقامو او معلوماتو ته د دولتي، خصوصي او نړیوالو ادارو او خلکو د لاسرسي په موخه رامنځته شوه. دې اداري د ۱۳۵۲- ۱۳۵۷ کلونو په لړ کې د ولایتونو په کچه خپل آمریتونه رامنځته کړل او بیا یې په ۱۳۷۰ کال کې له لوی ریاست څخه وزارت ته هم ارتقأ وکړه.

په ۱۳۸۲ کال کې په هېواد کې د موقتي اداري په رامنځ ته کېدو سره د احصایې مرکزي اداري خپل فعالیتونه له سره پیل کړل. په ۱۳۹۷ کال کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د پراخو پرمختګونو او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د لزوم دید له مخې د دې اداري تشکیل بدلون وموند. د دې ادارې په نوي تشکیل کې د احصایې، مالي او اداري او د جغرافیایي معلوماتو او معلوماتي سیستمونو معاونیتونه زیات شول او د احصایې او معلوماتو ملي اداري په نوم ونومول شوه. د ۱۳۹۷ کال په وروستیو کې د نفوسو د احوال ثبتولو مرکزي اداره هم له دې اداري سره یو ځای شوه.

د احصایې او معلوماتو ملي اداره د پنځو بنسټیزو برخو په لرلو سره، یو عمومي ریاست، ۳۱ مرکزي ریاستونه، ۳۴ ولایتي ریاستونه او په ټولو ولسوالیو کې مدیریتونه لري چې د دې اداري د مقام تر اثر لاندې فعالیت کوي.

د دې اداري، مالي او اداري معاونیت د بشري سرچینو، اداري او خدمتونو، مالي او تدارکاتو، او د ولایتونو د احصایې او معلوماتو ریاستونو د مدیریت دنده لري او د دې ترڅنګ له نورو تخنیکي او مسلکي څانګو سره د اداري د موخو په ترلاسه کولو کې هم مرسته کوي.

د احصایې معاونیت د احصاییوي سیستمونو د پراختیا، پیاوړتیا او معیاري کولو، او په اقتصادي او ټولنیزو اړخونو کې د ارقامو راټولولو، توحید، ارزونې او وړاندې کولو لپاره د سروې ګانو د ډیزاین او ترسره کولو په برخه کې فعالیت کوي.

د جغرافیایي معلوماتو معاونیت په هېواد کې د جغرافیایي معلوماتو د ټکنالوژۍ چارو مدیریت پر غاړه لري او د ارقامو راټولول، زېرمه کول او په ملي کچه د پرمختللې ټکنالوژۍ لکه ریموټ سینسنګ او د جغرافیایي معلوماتو د سیستم په کارولو سره فضایي ارزونې ترسره کوي.

د معلوماتي سیستمونو معاونیت د ملي بنسټونو په کچه د معلوماتي سیستمونو د رامنځته کولو او پراختیا او په الکترونیکي ډول د ارقامو د راټولولو او د هېواد په واحد معلوماتي بانک کې د هغو د ځای پر ځای کولو په برخه کې فعالیت کوي.

د نفوسو د احوال ثبتولو معاونیت، هېوادوالو ته د تابعیت تذکرو د وېش او د نفوسو د احوال ثبتولو اړوند خدمتونو د وړاندې کولو مرجع ګڼل کېږي.

د احصایې او معلوماتو ملي اداره، د یوه ملي بنسټ په توګه خلکو او ملي او نړیوالو سازمانونو ته د چټکو، کیفیت لرونکو او برابرو خدمتونو د وړاندې کولو ژمنتیا لري.

### 1-1 تشکیل

د احصایې او معلوماتو ملي اداره د پنځو بنسټیزو برخو په لرلو سره، یو عمومي ریاست، ۳۱ مرکزي ریاستونه، په مرکز کې ۲ (حقوقي او احصاییوي) مشاوریتونه، ۳۴ ولایتي ریاستونه او په ټولو ولسوالیو کې مدیریتونه لري چې د دې اداري د مقام تر اثر لاندې فعالیت کوي.

په ۱۳۹۹ کال دې اداري په خپل تشکیل کې ټول ۴۰۲۰ بستونه درلودل، چې ۲۹۰۱ عملاً ډک او د ۷۸۷ بستونو لپاره د ګمارنې پروسه روانه ده. د دې ترڅنګ، ۳۴۰ بستونه به ژر د آزادې سیالۍ له لارې اعلان شي.

### 2-1 موخې

- د احصاییوي ارقامو د ثبت لپاره د یوه علمي سیستم رامنځ ته کول؛
- په هېواد کې د احصاییوي فعالیتونو د همغږۍ او انسجام تأمینول؛
- د هېواد د اتباعو ژوند د متوازنې پراختیا او سمون په موخه د معتبرو احصاییوي ارقامو په وړاندې کولو سره د پرېکړو د زیربناوو پیاوړتیا؛
- په ټل پاتې ډول د احصاییوي معیاري او معتبرو ارقامو د ثبت د علمي سیستم پیاوړي کول؛
- د هېواد په ټولو ادارو کې د الکترونیکي سیستمونو رامنځ ته کول؛
- د هېواد د وګړو لپاره د الکترنیکي تذکرو د وېش ظرفیت لوړول او د دیموګرافیکي معلوماتو الکترونیکي مرکز رامنځته کول؛
- د ملي سیستمونو د رامنځته کولو او انسجام له لارې په دوامداره توګه د دولتي سکټور د رسمي او عملیاتي پروسو پیاوړي کول؛
- د جغرافیایي معیاري او معتبرو معلوماتو په وړاندې کولو سره د پرېکړو د زیربناوو پیاوړي کول.

### 3-1 دندې او واکونه

1. د یو علمي او معاصر سیستم په کارولو سره د احصاییوي ارقامو راټولول، توحید، ارزونه او وړاندې کول؛
2. د سوداګرۍ، کرنې، مالي، ټولنیزو، اقتصادي، روغتیا، او د چاپیریال اړوند چارو او د خلکو د ژوندانه وضعیت په اړه د کره، مستندو او معاصرو احصاییوي معلوماتو راټولول، توحید، ارزونه او خپرول؛
3. له دولتي ادارو او وزارتونو سره د هغوی د فعالیتونو د ارقامو په شمول د احصاییوي معلوماتو د راټولولو، چمتو کولو او خپرولو په برخه کې مرسته او همکاري کول؛
4. د احصاییوي سروې ګانو او د وګړو سرشمېرنه ترسره کول؛
5. په هېواد کې د اقتصادي او ټولنیزو توحید شویو احصایو عمومي پراختیا او د هغو د توحید لپاره د پلانونو انسجام؛
6. د دولتي ادارو او وزارتونو لپاره د احصاییوي سټنډرډونو او تصنیفونو تجویز او پراختیا؛
7. په دوامداره توګه د احصاییوي معلوماتو لرونکو مناسبو ډېټابیسونو پراختیا او ساتنه، او د احصایي قانون له مخې، د ټولو ګټه اخیستونکو لپاره، له محرمو معلوماتو پرته، له احصاییوي معلوماتو څخه د ګټې اخیستنې زمینې چمتو کول؛
8. د احصاییوي معلوماتو او ارقامو راټولولو، توحید، او د خپرولو د وخت د څرنګوالي په تړاو پرېکړه کول؛
9. د هېواد د نفوسو د کلني شمېر تثبیتول او خپرول؛
10. د جغرافیایي معلوماتو د سیستم او ریموټ سینسنګ د معاصرې ټکنالوژۍ بنسټیز کول او کارول؛
11. د ریموټ سینسنګ د معاصرې ټکنالوژۍ په کارولو سره د جغرافیایي معلوماتو او ارقامو راټولول، ارزول او مدیریت؛
12. په دولتي او نادولتي ادارو کې د نه کارول شویو او خورو ورو شته جغرافیایي ارقامو تنظیمول؛
13. د هېواد په کچه د شواهدو پر بنسټ د پلان جوړولو د زمینې د برابرولو په موخه د جغرافیایي معلوماتو د انسجام له لارې د یوه ملي میکانیزم بنسټیز کول؛
14. د سرچینو د ښه تخصیص په موخه د فضایي ارزونو او شننو له لارې د جغرافیایي معلوماتو او ارقامو مدیریت؛
15. د احصایي او معلوماتو ملي اداره کې د فعالیتونو مډرن کول، او د معلوماتي سیستمونو او ټکنالوژۍ زېربناوو رامنځته کول او پراختیا؛
16. د هېواد په ټولو ادارو او وزارتونو کې د معلوماتي سیستمونو رامنځته کول او انسجام؛
17. د ټولو دولتي او نادولتي ادارو له خوا د معلوماتو راټولیدو په اړه د عمل له تکرار څخه مخنیوی؛
18. په هېواد کې د یوه الکترونیکي اطلاعاتي بانک رامنځته کول؛
19. تر یو چتر لاندې د (One-stop shop) په ډول د ټولو عامه خدمتونو د پروسو تنظیمول، ډیجیټل کول او ساده کول؛
20. د هېواد په کچه د الکترونیکي تذکرو د وېش د ملي پروسې پلي کول او د الکترونیکي تذکرو د وېش ځانګو رامنځته کول؛
21. د نفوسو احوال ثبتول، د هېواد وګړو ته د الکترونیکي تذکرو وېش، او د نفوسو احوال ثبتولو مراجعو له اجراتو څخه په دوامداره توګه څارنه کول؛
22. د نفوسو د احوال ثبتولو اړوند معلوماتو راټولول، توحید، انسجام، ارزونه، او نتیجه ګیري؛
23. د هېواد له قوانینو سره سم دولتي ادارو ته د غوښتنې په وخت کې د نفوسو د احوال ثبتولو په اړه د معلوماتو وړاندې کول؛
24. هېواد ته د راتلو په وخت کې د بهرنیو اتباعو د چارو تنظیم او ثبتول؛

25. د تابیعت تذکرو د اخیستلو او ساتنې په هکله د عامه پوهاوي پروګرامونه چمتو کول او تنظیمول؛
26. د غوښتونکو د اسنادو ارزول، د تابعیت ترلاسه کول او پرېښودل او اړوند کمیسیون ته د هغو سپارل؛
27. د احصاییې او معلوماتو ملي اداري د کارکوونکو د ظرفیتونو لوړول او د هغوی لپاره د روزنیزو پروګرامونو چمتو کول؛

## د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د ۱۳۹۹ مالي کال بودیجه

### 1-2 عادي بودیجه

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د کوډ پر بنسټ د احصایې او معلوماتو ملي ادارې عادي بودیجه

| شمېره | منظوري | لګښت | پاتې | د لګښت سلنه |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 626,067,268.86 | 514,066,480.00 | 112,000,788.86 | 82% |
| 2 | 418,872,754.04 | 322,587,408.00 | 96,285,346.04 | 77% |
| 3 | 84,850,530.08 | 12,090,182.00 | 72,760,348.08 | 14% |
| **ټولټال** | **1,129,790,552.98** | **848,744,070.00** | **281,046,482.98** | **75%** |

### 2-2 پراختیایي بودیجه

په ۱۳۹۹ مالي کال کې د احصایې او معلوماتو ملي ادارې پراختیایي بودیجې جدول

| شمېره | پروژه | منظوري | لګښت | پاتې | د لګښت سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | په مرکز او ولایتونو کې د تعمیرونو جوړول | 21,959,922.00 | 3,380,526.00 | 18,579,396.00 | 15.39 |
| 2 | د افغانستان د معلوماتي نظام اصلاح | 55,304,000.00 | 38,730,264.00 | 16,573,736.00 | 70.03 |
| 3 | حمایوي تکنالوژۍ تجهیزات | 153,037,111.00 | 148,028,070.01 | 5,009,040.99 | 96.73 |
| 4 | احصاییوي سروې ګانې | 674,375,432.00 | 638,013,810.00 | 36,361,622.00 | 94.61 |
| 5 | د الکترونیکي تذکرو وېش | 770,500,481.00 | 575,870,761.86 | 194,629,719.14 | 74.74 |
| **ټولټال** | | **1,675,176,946.00** | **1,404,023,431.87** | **271,153,514.13** | **84%** |

## د احصایې او معلوماتو ملي ادارې فعالیتونه او لاس ته راوړنې

### 3-1 فعالیتونه

1. په ۱۳۹۹ مالي کال کې له ټولو حکومتي ادارو او خصوصي سکټور څخه په الکترونیکي او مروج ډول د میاشتنیو او ربعوارو دورو په ترڅ کې د جاریه ارقامو راټولول؛
2. په میاشتني، ربعوار او کلني ډول د ۱۳۹۹ مالي کال د احصاییوي معلوماتو او ارقامو راټولول، توحید، ارزونه او د احصاییوي خپرونو له لارې د هغو خپرول؛
3. د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د ۷۰ میلیونه افغانیو په لګښت د کورنیو د عاید، لګښت او د کاري ځواک سروې ګانو ترسره کول چې په پایله کې یې د بېوزلۍ، خوړو خوندیتوب، کار وضعیت، روغتیا، پوهنې، د کورنیو ځانګړتیاو، استوګنې او د تل پاتې پراختیایي موخو د شاخصونو په اړه کره او جامع معلومات راټول او خپاره کړای شول؛
4. د کورنې ناخالص تولید، اقتصادي ودې، او د پېسو پرسوب سنجول او ارزونه، او د ارقامو د کیفیت ښه کول؛
5. په ۱۳۹۹ مالي کال کې د کرنې، تولید، سوداګرۍ، ټرانسپورت، خدمتونو، د پراختیایي پروژو لګښتونو او د خدمتونو سوادګرۍ بیلانس اړوند فعالیتونو په اړه د احصاییوي معلوماتو او ارقامو توحید او خپرول؛
6. د پوهنې، لوړو زدکړو، روغتیا، بشري ځواک، استوګنې، ټرافیکي پېښو، جرمونو او جندر اړوند ټولنیزې احصایې ارزونه او خپرول؛
7. د کرونا ویروس خپرېدو په پایله کې د نرخونو د میزان سنجول؛
8. د جنس، ولایت، ولسوالۍ، ښار او کلیو په تفکیک، د ۱۳۹۹ کال د هېواد د ټول نفوس اټکلول؛
9. په ۱۳۹۹ کال کې د غنمو د تولید او تر کښت لاندې ساحو د تثبیت هوایي سروې ترسره کول؛
10. د وریجو د تولید او د شولو تر کښت لاندې ساحو د تثبیت لپاره هوایي سروې ترسره کول؛
11. د لوړ دقت لرونکو سپوږمکیو انځورونو په کارولو سره په هېواد کې د ځنګلونو د هوایي سروې ترسره کول؛
12. د کوکنارو تر کښت لاندې ساحو د تثبیت لپاره هوایي سروې ترسره کول؛
13. د سپوږمکیو انځورونو د تعبیر او تفسیر له لارې د هېواد د اوبو حوزو په کچه د ځمکې لاندې اوبو د زېرمو د بدلونونو څېړنه؛
14. د **GPS** له لارې د ښوونځیو د موقعیت، د پوهنې اړوند خدمتونو ته د خلکو لاس رسی، او په هېواد کې د ښوونځیو د نقشې او ډیټابېس چمتو کولو په اړه سروې ترسره کول؛
15. د هېواد د سپوږمکیو انځورونو د مدیریت پروژه؛
16. د اوربښت وضعیت، اقلیمي وړاندوینو، وچکالۍ، سیلابونو، او فضایي ارزونو په اړه ارزونه ترسره کول چې په ملي پلان او پروګرام جوړونه کې ترې ګټه اخیستل کېږي؛
17. د طبیعي پېښو د خبرتیا ملي کمېټې د چارو او سکرټریت انسجام او له بېوزلۍ سره د مبارزې عالي شورا د وچکالۍ د خبرتیا فرعي کمېټې د چارو پر مخ بېول؛
18. د اورښتونو په اړه د ارقامو راټولول، او د جمهوري ریاست لوړ مقام ته په هېواد کې د اورښتونو د کچې په اړه د اونیزو راپورونو وړاندې کول او ارزول؛
19. د سپوږمکیو انځورونو له لارې د هېواد د ښوونځیو د جغرافیایي موقعیت د کره مشخصاتو په هکله د جیو ډیټابېس رامنځته کول؛
20. په دولتي ادارو کې د معلوماتي سیستمونو ارزونه؛
21. د یوه واحد الکترونیکي معلوماتي سیستم د لرلو په موخه په پوهنې وزارت کې د یوه معلوماتي سیستم رامنځته کول، چې پر جوړېدو یې لاهم کار روان دی؛
22. په مالیې وزارت کې د عوایدو معلوماتي سیستم افمیس (**AFMIS**) رامنځته کول؛
23. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د ځمکې اطلاعاتو مدیریت سیستم ژوره څېړنه؛
24. د الکترونیکي تذکرو د وېش پروژې تطبیق او د کاغذي تذکرو د آرشیف ډیجیټل کول، او د الکترونیکي تذکرو د غوښتونکو د هویت تثبیتول؛
25. تر دې دمه، غوښتونکو ته 1,986,291 الکترونیکي تذکرې طی مراحل شوې دي، په داسې حال کې چې په 1398 کال کې 671,916 الکترونیکي تذکرې خلکو ته وېشل شوې وې؛
26. د اداري اصلاحاتو له خپلواک کمیسیون سره په همغږۍ د اداري تشکیل کلنۍ بیاکتنه، او د بشري سرچینو د مدیریت پراختیا لپاره د ستراتیژیک پلان جوړول؛

27. د الکترونيکي تذکرو د وېش مرکزونو اصلاح او د تشکيل بياکتنه چې په پايله کې يې د الکترونيکي تذکرو د وېش خدمتونو پروسه ګړندۍ شوې ده؛
28. د الکترونيکي تذکرو د وېش پروسې ګړندي کولو په موخه د هېواد د ۳۴ ولايتونو د الکترونيکي تذکرو د وېش مرکزونو د تشکيلاتي طرحې بيا اصلاح کول؛
29. د الکترونيکي تذکرو د وېش د دويمو واحدونو لپاره د 1399 تنو کارکوونکو ګمارل، چې د هغو له جملې څخه ۲۳۳ تنه ښځې او ۱،۱۶۶ تنه نارينه دي.
30. د الکترونيکي تذکرو د وېش د ولايتي او مرکزي واحدونو د کارکوونکو، دولتي کارکوونکو او محصلينو د ظرفيت لوړولو لپاره له ۷۰ څخه د زياتو روزنيزو پروګرامونو جوړول؛
31. د پروژو د داوطلبی اعلانونه د دې اداري د ويب سايټ او ټولنيزو پاڼو، د آرمان ملي ورځپاڼې او د ملي تدارکاتو اداري د ويب پاڼې له لارې خپاره شوي دي؛
32. ټول تدارکاتي اسناد لکه ( د داوطلبيو د اعلانونو کتنګ، د آفرونو د ارزوني راپورونه، تدارکاتي قراردادونه او نور اسناد) د دې اداري د ويب پاڼې له لارې خپاره شوي دي.

## 3-2 لاسته راوړنې

1. د مډرنې ټکنالوژۍ او د اداري د کورنيو سرچينو په کارولو سره د کورنيو د عايد، لګښت او کاري ځواک د سروې ګانو ترسره کول؛
2. په کابل ښار کې د ۲۵۰ زره مستحقو کورنيو د تثبيت سروې طرح او پلي کول؛
3. د سپوږمکيو انځورونو او ساحوي سروې ګانو له لارې په هېواد کې د ۹۷ سلنه ښوونځيو کوردينات چمتو کول؛
4. په هېواد کې د ځنګلونو د پوښښ د نقشو تثبيت او بياکتنه؛
5. د الکترونيکي تذکرو د غوښتني آنلاين سيسټم رامنځته کول، چې تر اوسه يې پرمټ ۲ ميليونه غوښتني ترلاسه شوې دي؛
6. په هېواد کې د الکترونيکي تذکرو د وېش د ۷۰ مرکزونو رامنځته کول چې ۶ مرکزونه يې په ايران کې موقعيت لري؛ په داسې حال کې چې په ۱۳۹۸ کال کې يوازې ۹ مرکزونه موجود و.
7. په کابل کې د ۷۵ دولتي ادارو کارکوونکو ته د الکترونيکي تذکرو وېشل او په دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او ولايتونو کې د نورو دولتي ادارو کارکوونکو ته د دې لړۍ دوام؛
8. د بهرنيو چارو وزارت د پاسپورټ سيسټم رامنځته کول او د الکترونيکي تذکرو له سيسټم سره د هغو نښلول؛
9. د ماليې وزارت د تقاعد خزينې سيسټم رامنځته کول او د الکترونيکي تذکرو له سيسټم سره د هغو نښلول؛
10. د نفوسو د احوال ثبتولو د اساس کتابونو د ۲۶ ميليونه ريکارډونو ثبت او ډيجيټل کول، چې دا لړۍ لا هم روانه ده؛
11. د هويت د تثبيت د ملي مرکز رامنځته کول او په ايران کې د مېشتو افغانانو د هويت د تثبيت په موخه هغه ته پراختيا ورکول؛
12. په بهر کې د مېشتو افغانانو د نفوسو د احوال ثبتولو د غير حضوري آنلاين غوښتنليکونو د سيسټم رامنځته کول چې همدا اوس په آلمان او سويس کې دا خدمتونه وړاندې کېږي او په راتلونکي کې به دا خدمتونه نورو هېوادونو ته هم وغځول شي؛
13. د بې ځايه بيروکراسۍ د له منځه وړولو، د مراجعينو د ستونزو د حل او د کاغذي تذکرو د تاييد پروسې د بندولو په موخه د نفوسو د احوال ثبتولو د کاري پروسيجرونو اصلاح کول، تغيير او سمون؛
14. د جينوا کنفرانس له ژمنو سره سم په کابل کې د آسان خدمت د ۲ مرکزونو رامنځته کول؛
15. خوست ولايت ته د آسان خدمت د مرکزونو غځول چې په کندهار، هرات، بلخ او ننګرهار ولايتونو کې په دې اړه کار روان دی او ډېر ژر به په نوموړو ولايتونو کې هم خلکو ته خدمتونه وړاندې کړل شي.
16. د پېرودونکو خدمتونو د مرکز رامنځته کول، او د شهيدانو او معلولينو وزارت ته د عامه خدمتونو د پروسو آسانه کول؛
17. د ټرافيکو عمومي رياست د جواز سير او چلونکو جواز د پروسو آسانه کول، چې د چلونکو جواز د مقررې د تعديل له تصويب وروسته به پلي کېږي؛
18. د پوهنې وزارت د پروسو آسانه کول، چې اوسمهال د تطبيق په حال کې دي؛
19. د برېښنا شرکت لپاره د معلوماتي او بيلينګ سيسټم رامنځ ته کول؛
20. د وزارتونو لپاره د پراختيايي پروژو د جغرافيايي موقعيت په هکله اطلاعات برابرول؛
21. د کابل ښاروالۍ او د پلټنې عالي اداري لپاره د الکترونيکي حاضرۍ د سيسټم رامنځ ته کول؛

22. ملي تدارکاتو ادارې ته د **Asset Management** سیسټم رامنځته کول؛
23. د ولایتونو د ټولو ریاستونو د شبکو او نیټورک رامنځته کول (ټکنالوژۍ ریاست)؛
24. په هېواد کې د الکترونیکي تذکرو د نویو زونونو نیټورک او نښلول؛
25. د نویو تحلیلي او احصاییوي خپرونو پراختیا او ترتیبول، د مهاجرت د دیموګرافیکي تحلیلونو جامع خپروني؛
26. د خلکو شکایتونو او ستونزو ته د رسېدنې په موخه د ۴۵۰ اړیکي شمېرې د مرکز رامنځته کول؛
27. په مرکز او ولایتونو کې د ۲،۰۸۰ تنو قراردادي کارکوونکو لپاره کاري فرصتونه برابرول چې د آزادو سیالیو له لارې ګمارل شوي دي.

## د تقنیني سندونو او پالیسیو تدوین

1. د نفوسو د احوال ثبتولو د قانون د ځیني مادو د تعدیل طرحې چمتو کول او طی مراحل کول ( په الکترونیکي تذکرو کې د مور د نوم درج کولو لپاره)؛
2. د ترافیکو عمومي ریاست د جواز سیر او چلونکو جواز د مقررې د تسوید او تعدیل په اړه همکاري کول؛
3. د معلوماتي سیستمونو د مدیریت طرزالعمل، د معلوماتي سیستمونو د تدارکاتو طرزالعمل، د سافټویرونو او معلوماتي ټکنالوژۍ وسایلو، د ارقامو او معلوماتو د شریکولو او انسجام طرزالعمل، او د معلوماتي ټکنالوژۍ د جنسونو د مدیریت طرزالعمل چمتو کول او ترتیبول؛
4. د هویت د تثبیت، نوم ثبتولو، بایومټریک، الکترونیکي تذکرو د وېش او د الکترونیکي تذکرو د وېش څخه وروسته خدمتونو اړوند طرزالعملونو چمتو کول، ترتیبول او معاصر کول؛
5. د کارکوونکو د خونديتوب لپاره د پلان چمتو کول او ترتیبول؛
6. د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د پالیسیو، طرزالعملونو او پروژو له پلي کېدو څخه څارنه او ارزونه؛
7. د ولایتي ریاستونو له پروګرامونو، پالیسیو، طرزالعملونو او له مخکې ټاکل شوي پلان سره د فعالیتونو د سمون څخه څارنه؛
8. د داخلي پلټنې د طرزالعمل د مسودې چمتو کول؛
9. د معلوماتي سیستمونو د تدارکاتو د طرزالعمل د لومړۍ نسخې چمتو کول؛
10. د معلوماتي سیستمونو د انسجام او همغږۍ د طی مراحلو طرزالعمل چې ۴۰٪ سلنه پرمختګ یې کړی دی.

11. د معلوماتي سیستمونو د پلي کېدو د طرزالعمل چمتو کول جریان لري؛

## د خلکو پر ژوند د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د فعالیتونو اغېز

1. د نفوسو د احوال ثبتولو اړوند خدمتونو وړاندې کول او د الکترونیکي تذکرو وېش د خلکو پر ژوند باندې ډېرې اغېزې لري، ځکه الکترونیکي تذکرې د خلکو بنسټیز هویتي سند دی او په هېواد کې د ډېرې خدمتونو ترلاسه کول له دې هویتي سند سره تړاو لري. د دې سند لرونکي کولای شي له هېواد بهر او دننه د اتباعو له حقوقو څخه په آسانۍ ګټه واخلي.
2. دې ادارې د الکترونیکي تذکرو اړوند خدمتونو ته د خلکو د لاس رسي په موخه تر اوسه په مرکز، ولایتونو او ایران کې ۷۰ مرکزونه فعال کړي دي، چې په پایله کې د تذکرو د وېش لړۍ ګړندۍ شوې او د الکترونیکي حکومتولۍ د تطبیق لپاره زمینه برابره شوې ده.
3. دې ادارې د خوړو خونديتوب، بېوزلۍ، روغتیا، کار، زده‌کړې او د کورنیو د استوګنې د ځانګړتیاو اړوند شاخصونو په اړه

معاصر ارقام ملي او نړیوالو بنسټونو ته په واک کې ورکړي، چې د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره اغېزمن او پر واقعیتونو ولاړ پروګرامونه طرحه کړي. دغه راز د دې ادارې له خوا د ترسره شویو سروې ګانو پایلې او ارقام د محصلینو د پای لیک او څېړنیزو موضوع ګانو په برخه کې د ګټې اخیستو وړ دي.

4. دې ادارې د کرنتین په وخت کې د اختصاصي سروې ګانو په ترسره کولو سره کابل ښار کې د ناحیو په تفکیک سره د مستحقو کسانو لست چمتو کړی او هغه یې د دولت مشرتابه او نړیوالو موسسو ته وړاندې کړی، څو د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره اغېزمن پروګرامونه طرحه شي.
5. د دې ادارې د څېړنې او زده‌کړې مرکز چې په کابل پوهنتون کې فعالیت لري، هره ورځ د لسګونو محصلینو کوربه وي، روزنیز پروګرامونه چمتو کوي او څېړونکو او محصلینو ته د څېړنې زمینه برابروي؛
6. تر اوسه پورې دې ادارې ځینې دولتي ادارو ته الکترونیکي معلوماتي سیستمونه رامنځته کړي دي، چې دې کار له یوې خوا په کاري چارو کې آسانتیاوې رامنځته کړي او له بلې خوا یې د فعالیتونو په ډیجیټل کولو، د پروسو آسانه کولو، او د بیروکراسۍ د له مینځه وړلو په برخه کې خورا زیاته مرسته کړې ده. هغه سیستمونه چې جوړ شوي او نښلول شوي، په هېواد کې د یوه واحد معلوماتي سیستم په رامنځته کولو کې مرسته کوي چې بنسټ یې د الکترونیکي تذکرو سیستم دی او دې کار د خدمتونو د وړاندې کولو پروسې ته روڼتیا او آسانیتا ور ښنلې ده؛
7. هغه معلومات چې د احصایې او معلوماتو ملي ادارې په سرورونو او معلوماتي سیستمونو کې زېرمه کېږي، هغه سرچینې او معلومات دي چې په اوږد مهال کې د هغو په کارولو سره د خدمتونو په وړاندې کولو کې د پام وړ روڼتیا او آسانتیاوې رامنځته کېږي او د ښې حکومتولۍ بنسټ تشکیلوي؛
8. د احصایې او معلومتو ملي ادارې د خالي بستونو لپاره په آنلاین ډول د غوښتنلیکونو استول هغه آسانتیا ده چې د دې ادارې له خوا د آزدو او رڼو سیالیو په پایله کې د کارموندنې لپاره د هېواد په ټولو سیمو کې برابره شوې ده؛
9. په آنلاین ډول د الکترونیکي تذکرو د غوښتنلیکونو د استولو لپاره زمینه برابرول، تر څو خلک وکولای شي د وخت د ضایع کېدو او له سرګردانۍ پرته د الکترونیکي تذکرو له خدمتونو څخه ګټه واخلي؛
10. هغه فضایي اروزنه چې دې ادارې ترسره کړې ده، او هغه جغرافیایي معلومات چې دا اداره یې چمتو کوي د شواهدو پر بنسټ د ملي پرېکړو لپاره زمینه برابروي او دا پرېکړې د خلکو پر ژوند خورا زیاته اغېزه لري.
11. دې ادارې په مرکز او ولایتونو کې له ۲۰۰۰ تنه زیات کسان د پروګرامونو د عملي کولو لپاره ګمارلي دي، چې د هغوی لپاره د کاري آسانتیاوې برابرې شوي او د کورنیو اقتصاد یې ورسره ښه شوی دی.
12. د دې ادارې فعالیتونه او لاس ته راوړنې د دې لامل ګرځېدلي، چې د خدمتونو د وړاندې کولو پروسه چټکه، سیستماتیکه او آسانه شي او د بیروکراسۍ او د کارونو د تکرار مخه ونیول شي؛
13. د باغونو، ځنګلونو، مالوچو، کوکنارو، شولو او غنمو تر کښت لاندې ساحو تثبیتول د هېواد د کرنې د وضعیت په اړه کره معلومات برابروي، او له طبیعي پېښو مخکې خبرتیاوې د ځاني او مالي تاوانونو او ورڅخه د مخنیوي لامل ګرځي؛
14. د موادو د نرخونو د لګښت شاخص تثبیتول، او د هغو میاشتینی حرکت چې د مالي او پولي پالیسۍ بنسټیزه موخه ده. له دې شاخصونو څخه د سوادګریزو قراردادونو د انفلاسیون د تنظیم او تعدیل، ګمارنې، معاشونو، د تقاعد حقوقو او نورو ټولنیزو مواردو په برخه کې ګټه اخیستل کیږي.

## د بودیجې له سند سره سمې پراختیایي پروژې

- د پراختیایي پروژو شمېر، د بودیجې مقدار او د تطبیق ساحې په لاندې ډول دي:
- د افغانستان د معلوماتي نظام د اصلاح پروژه (منظور شوې بودیجه: 55,304,000)؛
- د احصاییوي سروې ګانو د ترسره کېدو پروژه (منظور شوې بودیجه: 674,357,432)؛
- د الکترونیکي تذکرو د وېش پروژه (منظور شوې بودیجه: 770,500,481)
- په مرکز او ولایتونو کې د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د تعمیرونو د جوړولو پروژه (منظورشوې بودیجه:

(21,959,922

- د معلوماتي ټکنالوژۍ د حمایوي تجهیزاتو پروژه (منظورشوې بودیجه: 153,037,111)

## له فساد سره د مبارزې لپاره بنسټیز او مهم اقدامات

د احصایې او معلوماتو ملي اداري یو له مهمو هدفونو څخه د قانون پلي کول، د روڼتیا رامنځته کول او د فساد مخنیوی دی. له همدې امله د اداري مشرتابه له اداري فساد سره د مبارزې او اصلاحاتو د راوستلو برخي ته زیاته پاملرنه کړې ده.

د حساب ورکولو، روڼتیا، ځواب ورکولو او د عامه شتمنیو د ساتلو په موخه، د دې اداري ټولې برخې د هېواد د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې او نړیوالو سټنډردونو ته په پام تر څارنې، پلټنې او ارزونې لاندې نیولې دي. هغه مهم ټکي چې دې اداري له فساد سره د مبارزې او د اصلاحاتو راوستلو لپاره عملي کړي په لاندې ډول دي:

1. دې اداري د ګمارنې په برخه کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسیون سره په همکارۍ تل هڅه کړې چې ګمارنه د آزادې سیالۍ او کمپیوټري سیستم له لارې ترسره شي، له همدې کبله دا اداره د شایسته سالارۍ یوه بنه بېلګه ګڼل کېږي؛
2. د افغانستان د تابعیت د ترلاسه کولو او پرېښودولو په اړه د مراجعینو غوښتنې طی مراحل کول او تنظمیول؛
3. د فساد اړوند شکایتونو درج کولو په اړه د یوه میکانیزم رامنځ ته کول، او پر فساد ککړو افرادو سره مبارزه کول او د تشخیص تګلاره؛
4. د فساد د مخنیوې په موخه د الکترونیکي تذکرو د زونونو لپاره د ارزونې پلاوی ټاکل؛
5. د آنلاین سیستم څخه په ګټه اخیستو، او چمتو شوي پلان سره سم د اداري د پروژې او تشکیل دننه کارکوونکو د کړنو د اروزنې پروسې ترسره کول، او د اداري د کارکوونکو د تقاعد حقوقو طی مراحل کول؛
6. شکایتونو ته د رسیدنې او ثبت په موخه د سیستم رامنځته کول؛
7. د اړتیا وړ معلوماتو د راټولولو په تړاو د وړاندیزونو او نظرونو د ترلاسه کولو لپاره د نویو تخنیکي او رهبري کمېټو جوړول او دایرول؛
8. اړوندو مراجعو ته د اداري د فعالیتونو، لاس ته راوړنو او اجراتو په اړه د کره او پر خپل وخت راپورونو استول؛
9. له سیستم څخه په ګټه اخیستو او په اداره کې د مکافاتو او مجازاتو د میکانیزم د پلي کېدو په موخه د اداري د کارکوونکو شکایتونه ثبتول او هغو ته رسیدنه؛
10. د احصایې او معلوماتو ملي اداري د پالیسیو، طرزالعملونو، او پراختیایي پروژو له تطبیق څخه څارنه او ارزونه؛
11. د مرکز او ولایتونو په کچه د څارنې د پوښتنلیکونو او چیک لستونو طرح، چمتو کول او بیاکتنه؛
12. د ولایتي ریاستونو د پروګرامونو، پالیسیو، طرزالعملونو، او له مخکې چمتو شوي پلان سره سم د فعالیتونو له ترسره کېدو څخه څارنه او ارزونه؛
13. په فساد ککړو افرادو تشخیصول، له هغوی سره قانوني چلند، او عدلي او قضایی مراجعو ته د هغوي ور پېژندل، له دې ډلې څخه:
    د ۱۳۴ پلاني قضیو ارزونه، د ۲۲ تنو لپاره د تأدیبي مجازاتو په پام کې نیول، د ۳ تنو کارکوونکو ګوښه کېدل او لویې څارنوالۍ ته د ۲ تنو قضیې راجع کول؛
14. د احصایې او معلوماتو ملي اداره د اداري فساد مشکوکو قضیو ته د رسیدنې په موخه له ټولو هېوادوالو او رسنیو څخه غوښتنه کړې چې په دې برخه کې له دې اداري سره مرسته وکړي، تر څو د اسنادو او شواهدو له مخې قضیې و ارزول شي او رسیدنه ورته وشي. دغه راز دې اداري د شکایتونو د ترلاسه کولو لپاره د ۴۵۰ اړیکي مرکز او د واټساپ له لارې د شکایتونو د درج کولو سیستم رامنځته کړی دی.

15. د جعل او تذویر د مخنیوي په موخه د الکترونیکي او ډیجیټلي فعالیتونو ترسره کول؛
16. د نفوسو د احوال ثبتولو او احصاییوي کاري پروسو روښتیا، مستند کول او آسانه کول.

## د احصایې او معلوماتو ملي ادارې راتلونکي عمده پروګرامونه

- له ټولو دولتي ادارو او خصوصي سکټور څخه په الکترونیکي او مروج ډول د میاشتنیو، ربعوارو او کلنیو دورو په ترڅ کې د جاریه ارقامو راټولول؛
- په میاشتیني، ربعوار او کلني ډول د احصاییوي معلوماتو او ارقامو راټولول، توحید، ارزونه او د احصاییوي خپرونو له لارې د هغو خپرول؛
- د ۱۳۹۹ کال د کورني ناخالص تولید سنجول؛
- د اوربندونو وضعیت، اقلیمي وړاندوینو، وچکالی، سیلابونو، او فضایي ارزونو په اړه ارزونه ترسره کول چې په ملي پلان او پروګرام جوړونه کې تري ګټه اخیستل کیږي؛
- د بانکي سکټور د فعالیتونو، د دولتي او خصوصي بانکونو عوایدو او لګښتونو، په دوران کې پیسو، د افغانستان بانک خزانه کې موجودو پیسو او د افغانستان بانک څانګو په خزانو کې موجودو پیسو اړوند ارقامو راټولول، توحید او چمتو کول؛
- د ۱۴۰۰ کال د کورنیو د عاید، لګښت او کاري ځواک د سروې ګانو ترسره کول؛
- د ۱۴۰۰ کال لپاره د استوګني ځای، عمر، جنس او اداري واحدونو په تفکیک سره د هېواد د نفوسو اټکل؛
- د جنسونو او خدمتونو د سوداګرای د بیلانس او صادراتو د حجم سنجول؛
- د صنعتي موسسو اړوند ارقامو ارزول، توحید، چمتو کول او خپرول؛
- د دولتي او خصوصي پانګوني اړوند ارقامو ارزول، توحید، چمتو کول او خپرول؛
- د مرکزي او محلي دولت لګښتونو، د کورنیو لګښتونو او د پانګې د تشکیل سنجول؛
- د نړیوال سټنډرډ فورمول په کارولو سره په هېواد کې د نرخونو د شاخص سنجول؛
- د GPS کارولو له لارې د غنمو، شولو، باغونو او کوکنارو تر کښت لاندې ساحو ثبتول او په اړه یې سروې ترسره کول؛
- په ښارونو کې د غرونو او غونډیو شاوخوا څلور خواوو ټاکل؛
- د بهرنیو چارو وزارت او د هغو اړوند څانګو د پاسپورټ د صادرولو د سیستم بنسټیز کول او پلي کول؛
- د ملي هویت د تثبیت سیستم طرح، ډیزاین، پراختیا او پلي کول؛
- پوهني وزارت کې د زدهکونکو د مدیریت سیستم SMIS پراختیا او پلي کول؛
- د آسان خدمت د مرکزونو (SRP) د عامه خدمتونو د درج کولو سیستم رامنځ ته کول؛
- د راټولولو آنلاین سیستم سره د احصایي او معلوماتو د ولایتي ریاستونو نښلول، او د پوښښ د کچې پراختیا؛
- د رسمي کتابونو او دوسیو سکن کولو او انډیکس تنظیمول؛
- په مرکز، ولایتونو او ځیني ولسوالیو او بهر کې د الکترونیکي تذکرو د ۶۶ نویو مرکزونو رامنځ ته کول؛
- د SIGTAS سیستم بدلول، او د عوایدو د نوي سیستم AITAS رامنځته کول؛
- په هېواد کې د 3.5 متره او 50 سانتي متره دقت لرونکو سپوږمکیو معاصرو انځورونو ترلاسه کول، شریکول او کارول؛

## ستونزې، ننګونې او تدبير شوې حل لارې

### 1-9 ستونزې او ننګونې

- د الکترونيکي تذکرو د وېش مرکزونو په وړاندې امنيتي ننګونې؛
- د الکترونيکي تذکرو د وېش مرکزونو کموالی او د غوښتونکو بې حده زياتوالی؛
- د ځينې دولتي ادارو له خوا د ارقامو نه وړاندې کول؛
- له دې ادارې سره له همغږۍ پرته د ځيني دولتي ادارو له خوا د سروې ګانو ترسره کول.

### 2-9 تدبير شوې حل لارې

- د احصايې او معلوماتو ملي ادارې د الکترونيکي تذکرو د وېش مرکزونو د امنيت تأمينولو لپاره د کورنيو چارو وزارت د عامه ساتنې تصدۍ له لوی رياست سره يو قرارداد لاسليک کړی دی؛
- دې ادارې د الکترونيکي تذکرو د غوښتونکو د اړتياوو پوره کولو لپاره د الکترونيکي تذکرود وېش ډېرې ځانګې رامنځته کړې چې شمېر يې په هېواد او ايران کې ۷۰ ته رسېږي، او په عملي ډول هېوادوالو ته خدمتونه وړاندې کوي؛
- د احصايې او معلوماتو ملي ادارې د الکترونيکي تذکرو د وېش لړۍ ګړندي کولو په موخه د چاپ لپاره نوي ماشينونه اخيستي دي چې ډېر ژر به افغانستان ته را ولېږدول شي؛
- دا اداره به له اړوندو ادارو سره د همغږۍ له لارې هڅوی وهڅوي تر څو خپل احصاييوي ارقام او معلومات ژر تر ژره شريک کړي؛
- دا اداره له اړوندو ادارو سره خبرې اترې کوي څو ټولې ملي سروې ګانې له احصايې او معلوماتو ملي ادارې سره په همغږۍ او د احصايې د قانون پر بنسټ تر سره کړي.